

د پالیسۍ لنډیز

# افغانستان او تر اتلانتیک ها خوا اړیکې

## د متحده ایالاتو او اروپایي ټولنې د همکاریو راتلونکی

اندرو واټکېنز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

د پالیسۍ دغه لنډیز، د ناټو او د اروپايي ټولنې د نورو غړو هېوادونو په همکارۍ له افغانستان څخه د متحده ایالاتو د ملاتړ سیاست څېړي. دغه پالیسي، په دې برخه کې د متحده ایالاتو کورنۍ سیاستونه جوتوي، او دغه چاره ارزوي، چې دغه سیاست څرنګه کولی شي، پر ۲۰۲۱ ز. کال کې له افغانستان څخه د متحده ایالاتو د ځواکونو بالقوه وتلو ته شکل ورکړي. همدارنګه دغه پالیسي، هغه سناریوګانې څېړي، چې څرنګه یو پوځي شاتګ کولی شي، دغه هېواد اغېزمن کړي او همدارنګه د افغانستان د شریکانو ترمنځ د همکارۍ او راتلونکي مشارکت لېدلوري تر څېړنې لاندې نیسي.

متحده ایالات له ۱۹۷۹ ز. کال راهیسې په مستقیمه او غیرمستقیمه توګه د افغانستان په شخړو او جګړه کې ښکېله ده[1]. متحده ایالاتو د پاکستان له لارې تر کار وروسته، چې ترڅو پر ۱۹۸۰ز. کال د شوروي ځواکونو پر وړاندې د مجاهدینو د اړتیا وړ وسلې او تجهیزات برابر کړي او په پایله کې شوروي اتحاد په افغانستان کې ماته وخوړه، د دغه هېواد په تړاو د خپلې پاملرنې په کچه کې کموالی راوستله؛ په دې توګه افغانان په ټوله معنا له بهرني ملاتړ څخه بې برخې شول. دغه خلا، د یوې دورې شدیدې کورنیو جګړو لامل شو، چې یوازې د طالبانو په واک کې رسېدو سره کابو شو، او طالبانو، یو زوروواکې حاکمیت د بې بندوبارو جګړو ځایناستی وګرځاوه. متحده ایالات، له خپلو اروپايي او نړیوالو متحدینو سره د ۲۰۰۱ ز. کال له وروستیو یو نوی ټولنیز نظم تر لاس لاندې ونیوه، په داسې حال کې، چې کابل او نور ښاري مراکز یې ثبات ته ورسول.

### د امریکا سیاست، د افغانستان جګړه

له هغه ځایه، چې داسې ښکاري، چې متحده ایالات یو ځل بیا دې هڅې ته لېوالتیا لري، چې افغانستان پرېږدي، د دغه هېواد او سیمې په تړاو د اروپایي سیاسي غبرګون په تړاو پوښتنې مطرحې دي: آیا د سولې په تړاو د متحده ایالاتو کړنلاره، د افغانستان په تړاو تر اتلانتیک ها خوا اړیکې زیانمنې کړې او که داسې ده، څرنګه کېدای شي، دغه ستونزې ته د پای ټکی کېږدو؟ آیا داسې ظرفیت شته، چې اروپا وکولی شي، هغه امنیتي تشې ډکې کړي، چې د امریکایي ځواکونو په وتلو سره رامنځته کېږي؟ له دې پرته، د اوسنیو امنیتي او (پرمختیایي) مرستو موجوده کچه، چې د اروپايي ټولنې هېوادونو له خوا چمتو کېږي، په راتلونکي کې به میسره وي؟

له هغو اصلي لاملونو څخه، چې دغه پوښتنې پیچلې کوي، د متحده ایالاتو د ټاکنو ناڅرګندتیا او په افغانستان پورې اړوندو سیاستونو باندې د دولت احتمالي تغییر اغېزې دي. تر ټاکنو وړاندې، له هغه مسیر څخه چې د ټرمپ دولت یې غوره کړي، د جوبایډن دولت د مسیر بدلون د څرنګوالي په اړه، شونتیاوې موجودې وي. خو د متحده ایالاتو زیاتره سیاسي او پالیسي جوړوونکي څارونکي خبرداری ورکوي، چې د امریکا بشپړ څنګ ته کېدل، ښایي وخت او شرایطو ته په پام سره وي. د اوباما د ولسمشرۍ پرمهال، د بهرنۍ پالیسۍ جوړونې په چاره کې د ولسمشر د مرستیال په توګه، جوبایډن تر ډېره بریده په افغانستان کې د ناټو ماموریت د کوچنې کېدو پلوي وو.

**په افغانستان کې د پوځي شتون په تړاو د امریکا د خلکو لېدلوری**




۱. له ناڅرګندتیا تر ستراتیژۍ پورې پروژه: د افغانستان په سیمه کې د برلاسي کېدو راتلونکي احتمالي سناریوګانې څه دي؟ دا د فریډریش ایبرټ بنسټ یوه خپلواکه هڅه ده، ترڅو د افغانستان د ګاونډیو لپاره، د پالیسیو د تعدیل، او د اروپايي بهرنیو پالیسي جوړوونکو ترمنځ یوې هر اړخیزې اړتیا لپاره ورته سناریوګانې تدوین او تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ دغه لنډیز، د دغه لړۍ یوه برخه ده، چې د اندرو واټکینز و ډاکټر تیمور شاران له خوا لیکل شوی، ترڅو د پالیسۍ د موجودو ابزارو، ستراتیژیکې ګټې او د افغانستان په دننه او بهر د اصلي شریکانو د ننګنو په تړاو، د امریکا د وتلو او د افغانستان د سولې خبرو پایلې، تر بحث لاندې ونیسي. د پالیسۍ د لنډیزونو بشپړ نوملړ، په لاندې ادرس کې ترلاسه کولی شي: https://afghanistan.fes.de/publications

۲. د https://www.charleskochinstitute.org/news/new-poll-3-in-4-americans-want-troops-home-from-afghanistan-iraq-favor-less-defense-spending-less-military-engagement-abroad ادرس وګورئ.

په وروستیو اونیو کې، د متحده ایالاتو د پوځ او ملي امنیت رسمي چارواکو، د افغانستان د پالیسۍ په اړه د ټرامپ د سیاسي سلاکارانو د څرګندونو په وړاندې شاتګ کړی دی. دغه ټولیزې څرګندونې، د افغانستان په تړاو د دغه هېواد له پالیسۍ سره د امریکا دولت په دننه د داخلي مخالفت ښکارندوی دی، چې دغه څه د اګست په میاشت کې هم وښودل شو؛ هغه مهال، چې امریکا تر یوې مودې فشار راوړه، چې د افغانستان له یو شمېر بندیخانو څخه د طالبانو یو شمېر بندیان خوشي شي، او په ورته وخت په بند کې د هغوی د ساتلو په تړاو لابیګري کول. د امریکا پوځ فشار، د داسې چټک شاتګ په وړاندې، چې نه شي کولی د خبرو له لارې د حل او فصل په تمه کې وي، په دې برخه کې داسې ډینامیک ښیي، چې د نومبر میاشتې د ټاکنو پایلو له په پام کې نیولو پرته، ښایي پر خپل حال پاتې شي. همدارنګه داسې ښکاري، چې دغه چاره، له هغه ډینامیک سره ورته دی، چې د متحده ایالاتو د سوریې په پالیسۍ کې څرګنده شوه او د څوکلن سیاسي مانور لامل شي؛ داسې مانور، چې سیاسي او ډیپلوماتیکې هڅې لا پسې پېچلې کړې، د سیمه ییزو شریکانو باور یې له منځه یوړل او د سیمې په وضعیت کې د ګډوډیو لامل شو.

دغه ډینامیکونه، په واشنګټن کې د افغانستان په تړاو د بحث او خبرو لامل شوی دی او یوې بنسټیزې پوښتنې ته په پام سره رامنځته کېږي: «آیا د پوځي ځواکونو صفر، د صفر په معنا ده؟» دغه پوښتنه، د سیاسي کتنې او د پالیسۍ کچه منعکسوي؛ په داسې حال کې، چې د متحده ایالاتو د بهرني سیاست څېرې، د ځواکونو د بیرنی وتل، د جګړې د دوام له پایلو سره برابر ګڼي.

## ناټو په هوا کې؟

د سولې خبرو ته د رسېدو په تړاو د متحده ایالاتو ستراتیژي هغه یوې اړخیزې ژمنتیا ته شامله وه، چې نه یوازې د امریکایي ځواکونو وتلو، بلکې د ناټو د ټولو غړو هېوادونو د ځواکونو ایستلو شامله وه – البته دغه چاره، د متحده ایالاتو او اروپايي متحدینو ترمنځ د لانجې پر یوه سرچینه بدله شوې ده. په داسې حال کې، چې د فبرورۍ د ۲۹ نېټې د هوکړه لیک تر اعلان وروسته، د ناټو د غړو ترمنځ ټولیزه کرښه «د یو بل ترڅنګ او له یو بل پرته» رامنځته شوه، د جرمني او نورو اروپايي چاروکو په دې برخه کې له دوی سره د نه مشوره کېدو په اړه خپله ناخوښي وښوده – هغه اصطکاک چې د څلورو کلونو په موده ان تر افغانستان ها خوا ډېره زیاته پراختیا وموندله. داسې ښکاري، چې د امریکایي چارواکو ترمنځ په دې اړه به کمې پوښتنې شتون ولري، چې د امریکایي شاتګ به د اروپايي ټولنې د شاتګ لامل هم شي. د ناټو د ناهیلیو سره سره، د متحده ایالاتو په امنیتي زېربناوو او چتر پورې د دغه سازمان تړلتیا څرګنده ده.

نیوکې د متحده ایالاتو د ډیپلوماتیکو هڅو تر کرښلارې لوري دي؛ یو شمېر شریکان په دې اړه اندېښنه څرګندوي، چې د سیمه ییز چوکاټ د یوې هوکړې د انعقاد او رسمیت په تړاو، ډېر اقدامات نه دي ترسره شوي، چې له بین الافغاني خبرو سره ملګری وي. په داسې حال کې چې متحده ایالات د افغانستان دولت او طالبانو ترمنځ د مستقیمو خبرو د ملاتړ په برخه کې د تحرک د رامنځته کولو او ساتلو په پار، په ټوله سیمه کې د منځګړیتوب ډیپلوماسۍ سره لاس او ګرېوان دی، او خپله پاملرنه، د افغانستان او یو شمېر ګاونډیو هېوادونو ترمنځ درېو اړخیزو خبرو ته اړولې ده، خو له سیمه ییزو هېوادونو سره د شریکو او مرستندویو اروپايي هېوادونو د یو ځای کولو په برخه کې ډېر کم کار کړی دی – او تراوسه پورې په دې برخه کې هېڅ راز سیمه ییزې خبرې اترې نه دي ترسره شوي. یو شمېر امریکایي چارواکو ویلي، چې له نړیوالو شریکانو (لکه روسیې، چین او ایران) سره ډیپلوماتیکې ستونزې، په دې معنا دی، که څه هم متحده ایالات سیمه ییزې هڅې تحریک کړي، خو په اوسنیو شرایطو کې نه شي کولی چې په سمه توګه یې مدیریت کړي.

**د امریکایي او اروپايي ځواکونو – د ناټو د غوڅ ماموریت مشارکت**




سرچینه: ناټو

له ناهیلۍ سره سره، څو اروپايي چارواکو اعتراف کړی، چې د متحده ایالاتو له ښکېلتیا او زېربناوو پرته، ان د ناټو د متحدینو ترمنځ چې بې ساري دي، د امنیتي مرستو چمتو کولو شونتیا په اغېزناکه توګه له منځه ځي. اروپايي او امریکايي چارواکو په دې برخه کې سره هوکړه لري، چې د متحده ایالاتو له شتون پرته، یو تلپاتي پوځي مسیر د نه منلو وړ دي. د افغانستان په اړه د کورني سیاسي «پاشلتیا»، چې په دې وروستیو کې د یو شمېر اروپايي چارواکو له خوا ورته اشاره شوې، یوازې د داسې څه پر نه دوام تېنګار لري، چې د اوسنیو امنیتي مرستو سره ورته وي. د «له یو بل سره یوځای او له یو بل پرته « شعار هم کولی شي، د اروپا په یو شمېر سیمو کې د بدبینۍ لامل شي. لا هم، که متحده ایالات پرېکړه وکړي، چې په یو بشپړ شاتګ سره مخته حرکت وکړي، داسې ښکاري، چې د دغه کار لپاره، لږ معمول بدیلونه شته.

د افغانستان دولت هم په ښکاره اعلانوي، چې د بشپړ وتلو پالیسي په توګه د متحده ایالاتو سیاست نه درک کوي، ان که د متحده ایالاتو ولسمشر د ټولنیزې رسنۍ اعلامیې په همدغه وړاندیز سره، صادروي. په ورته وخت، د کابل د چارواکو او سیاسي څېرو ترمنځ، د متحده ایالاتو په مشرۍ د مرستو لپاره، د نورو بدیلونو د څېړلو په برخه کې، لږ بحثونه کېږي. دغه بحثونه، د ناټو په تړاو څېړنې او د مرستو د اوسنې کچې د ساتلو په موخه د هغوی د لېوالتیا د ارزونې په اړه نه، بلکې د سیمې هېوادونو سره د اړیکو د ټینګولو په تړاو دي. دغه فعالیت، د متحده ایالاتو د راتلونکو اقداماتو په تړاو د ناډاډمنتیا زېږنده ده، چې کولی شي، د سولې خبرو او د جګړې د دواړو لورو د غبرګون د څرنګوالي په اړه وي.

## د متحده ایالاتو د وتلو لپاره ممکنه سناریوګانې

- «صفر د صفر په معنا ده»: متحده ایالات، هغو شرایطو ته له پاملرنې پرته، چې د خبرو په میز یا افغانستان جګړه کې شتون لري، له طالبانو سره د خپلې هوکړې شرایطو پلیتابه ته دوام ورکوي؛ یعنې د دوحې په هوکړه لیک کې له مخې اټکل شوې مهالوېش له مخې بشپړ وتل (د مي یا د ۲۰۲۱ ز.کال تر نیمايي پورې). د دغه سناریو پر بنسټ، د ناټو ځواکونه هم اړ دي، چې شاتګ وکړي، چې په پایله کې ښايي د اروپا امنیتي او پرمختیايي مرستې تر کره څارنې لاندې راشي. د امنیتي مالي مرستو په لوړه کچو سره، په افغانستان کې د امریکا پوځي حضور شالید ته په پام سره، د دغه سناریو په چوکاټ کې، افغان دولت، د بهرني بودجې د راکمېدو او محاسبې وړاندوینې ته به اړتیا ولري. په داسې حال کې، چې نور مرستندویان ښايي ژمنه وکړي، چې دغه بودجه په اوسنۍ کچه د مرستو د راټیټېدو په وړاندې، وساتي، خو دغه چاره لیرې ده، چې د امریکا متحده ایالاتو د امنیتي مرستو د کمېدو یا ځنډېدو په صورت کې، رامنځته شوی خلا ډکه کړي. د مرستو د کمېدو دغه ډول بهیر، کولی شي، د جګړې او امنیتي فضا پر لړۍ، له فاجعې ډکې پایلې د هېواد په لر او بر کې ولري.
- «د ورکړې له لارې ورکړه»: متحده ایالات له خپلو وروستیو پاتې شویو سرتېرو څخه د طالبانو (او احتمالا افغان دولت) پر وړاندې ګټه اخلي، ترڅو د سولې د پروسې د پرمختګ په برخه کې تړې کار واخلي. دغه چاره یوازې تر هغه وروسته، پوځي وتل نهايي کوي، چې دواړه لوري د جګړې د پای ته رسېدو په پار یوې سیاسي هوکړې ته ورسېږي. په دغه سناریو کې، د پوځي ځواکونو کمېدل کولی شي، په ښکاره بڼه، د امریکا او نورو لویدیځو مرستندویانو د مالي تمویل د لړۍ د کموالي پیل وي، خو په افغانستان (تر اتلانتیک ها خوا اړیکو) کې د ورته امنیتي منفي اغېزې پرته. دغه سناریو، همدا راز په ایده یاله توګه، د متحده ایالاتو او په ناټو کې د هغه د شریکانو ترمنځ د سلا مشورې او ګډو ستراتیژیو تدوین ته شامل شي.
- معکوس مسیر: د متحده ایالاتو سیاسي مشرتابه ښايي پرېکړه وکړي، چې له افغانستان څخه د ځواکونو د شاتګ له ژمنتیا څخه ډډه وکړي، او لامل یې په افغانستان کې د طالبانو د تاوتریخوالي دوام او یا له القاعده یا نورو توندلارو ډلو سره د دغه ډلې د اړیکو دوام وښيي. دغه چاره، په پرېکنده توګه د سولې د خبرو اوسنی چوکاټ، چې طالبانو په بنسټیزه توګه د بهرنیو ځواکونو د چټک وتلو څخه د ډاډمنتیا په پار پکې داخل شي، وځنډوي. په پایله کې، افغان دولت، د جګړې د دوام لپاره، د ناټو او امریکا له خوا د امنیتي او پرمختیايي مرستو د اوسنۍ کچې د دوام او ساتلو لپاره به غوښتنه وکړي. لا جوته نه ده، چې اروپايي مرستندویان او د ناټو متحدین، د روان کال په لومړیو کې د ځواکونو د شاتګ له سناریو سره تر مخامخېدو وروسته، دغه شاتګ یا د امنیتي یا نورو مرستو د لوړې کچې غوښتنې غبرګون ښيي. دغه ډول شاتګ کولی شي، له فاجعو ډک لومړی سناریو وروسته به صورت ومومي، چې له امله یې اروپايي هېوادونه تر ډېره بریده د افغانستان کورني جګړې تر پراخو اغېزو لاندې راشي.

## وړاندیزونه

- د پالیسۍ له هغې کرښلارې پرته چې د متحده ایالاتو دولت یې تر لاس لاندې نیسي، اروپایي هېوادونه تر هغه مخکې، چې په متحده ایالاتو د سیاسي بدلون په پایله کې کوم تغییر رامنځته کېږي، دې ته اړتیا لري، چې په ایډیال ډول د افغانستان په اړه یو خپلواک دریځ خپل کړي. د ناټو غړي هېوادونو او نور اروپایي مرستندویانو ډېر ژر په دې برخه کې خپل لنډمهالې او منځمهالې کرښلارې او ژمنتیاوې ترسیم کړي، چې دغه چاره به د افغان دولت د زیاتې ډاډمنتیا لامل شي.
- د افغانستان ملاتړ اروپایي هېوادونه باید د امنیتي مرستو ځانګړې او یو موټي دریځونه ولري، او په دغه هېواد کې له پوځي حضور پرته د مالي او مشورتي مرستو په اړه د «یو بل ترڅنګ او له یو بل پرته» شعار پایلې روښانه کړي.
- متحده ایالات باید له ځنډ پرته، د ناټو خپلمنځي ډیالوګ کچه په لوړه کچه زیاته کړي، او په افغانستان کې د سولې او جګړې لپاره په خپله ستراتیژیکه کرښلاره کې د خپلو متحدینو ګټو او اندېښنو ته پام وکړي.
- متحده ایالاتو د هغه څه په اړه روښانه توقعات او غوښتنې مطرح کړي، چې نړیوال شریکان (لکه د ناټو له چوکاټ بهر متحدین او مرستندویان) کولی شي، پر افغان دولت او سولې بهیر د اغېزشنیدلو په تړاو کولی شي؛ په داسې حال کې چې بیا هم د فشار اهرم شتون ولري، لکه ژمنتیاوې، امنیتي همکارۍ، ان د مهاجرت پالیسۍ. د متحده ایالاتو پالیسۍ، نورو نړیوالو شریکانو ته دا امکان ورکړی، چې په «شاته څوکۍ» کې دې کښیني او لا هم ناڅرګند دریځ ولري، چې دغه چاره کولی شي، له نږدې متحدینو سره په اقدام سره اصلاح شي.


په افغانستان کې امریکایي ځواکونه/dougg

---

### د لیکوالانو په اړه

اندرو واټکینز، د افغانستان د سولې او جګړې د لیدلورو په تړاو یو څېړونکی دی، او د شخړو په مخنیوي کې په ژوره توګه ښکېل دی. هغه تر دې مخکې، په افغانستان کې له ملګرو ملتونو سازمانونو، بشري ټولنو، متحده ایالاتو او همدارنګه د خپلواک څېړونکي په توګه کار کړی دی.

ډاکټر تیمور شاران، په افغان امریکایي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ استاد دی، او تر دې مخکې د افغانستان په برخه کې د بحران نړیوالې ډلې مخکښ شنونکی و.

### د پښتۍ د انځورونو په اړه:

د متحده ایالاتو دفاع وزیر مارک ایسپر، جینس ستولټنبرګ د ناټو عمومي منشي، د افغانستان اجراییه مشر ډاکټر عبدالله عبدالله او ولسمشر اشرف غنی، چې د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۹ مه نېټه په کابل کې یوخبري ناستې لپاره سره راټول شوي وو.

انځور: محمد اسماعیل


چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فریدریش ایبرت بنسټ

وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de



د فریدریش ایبرټ بنسټ له لیکلې مخکینۍ اجازې پرته، د فریدریش ایبرټ بنسټ له خوا له هر راز خپرونو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوې نظریې د فریدریش ایبرت بنسټ د لیدلوري منعکسوونکې نه دي.